Refugee Housing SOLUTIONS

# د هستوګنځي خوندي کولو لپاره ګام په ګام لارښود

**د لټون مخکې کارونه:**

**په ښه توګه د یو هستوګنځي د لټون لپاره، تاسو باید لومړی ځیني ګامونه پورته کړئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو په دې اړه اړین پوهاوی او ملاتړ لرئ. د خوندي لټون لپاره ځان چمتو کول، د ملاتړ سیستم موندل، ستاسو د هستوګنځي لپاره بودیجه انتخابول او ستاسو د موقعیت ټاکل یو څو هغه ګامونه دي چې باید واخیستل شي.**

- ملاتړ ومومئ: ستاسو د متحده ایالاتو له سپانسر څخه هاخوا، نورې ډلې کولای شي تاسو سره د اوسېدو د ځای په لټه کې مرسته وکړي. د اضافي ملاتړ، سرچینو او احتمالي مالي ملاتړ لپاره د سیمه ایزي بیا میشتیدني اداري سره اړیکه ونیسئ. ټولنیز او مذهبي سازمانونه، لکه کلیساوي او کنیسه ، ممکن ستاسو سره د هستوګنځي په لټون کې مرسته وکړي.
- بودیجه: "د مناسب قیمت" هستوګنځي معمولا ستاسو د میاشتني عاید د 20% څخه د 30% ترمنځ وي. مګر، د نویو کسانو لپاره، ډیری وختونه دا اندازه ډیره وي: 40٪ یا حتی نیمایي. نو، کله چې تاسو د دندي غوښتنه کوئ، دا اندازه په یاد ولرئ او ستاسو په سیمه کې د هستوګنځي په اوسط لګښت ځان خبر کړئ. په ځینو ایالتونو او ښارونو کې د نورو په پرتله کرایې لوړې وي، نو کله چې په یو ښار کې د میشتېدو پریکړه کوئ، لومړی په دې اړه ځان خبر کړئ.
- ځای مشخص کړئ: که تاسو د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان لرئ، یا تاسو کار پیلوئ، تاسو باید په د لټون پرمهال پر همدې ځایونو تمرکز وکړئ. د ځایی کرایې لګښتونو سربیره، د پرچون پلورنځیو، ټولنیزو مرکزونو او عامه ترانسپورت ته نږدې والی هم په پام کې ونیسئ.
- د درغلۍ څخه ځان وساتئ: خبر اوسئ چې د کرایې تړون د ډاډمنېدو مخکې د ځمکې مالکینو یا د ملکیت اړوند مدیرانو سره هیڅ شخصي معلومات شریک نه کړئ. دا نادره ده چې د کرایې تړون د لاسلیک کولو د مخه فیس ورکړئ، یا دا چې د ملکیت له لیدو څخه مخکې به تاسو څخه د کرایه خط د لاسلیک کولو غوښتنه وشي. که تاسو کولای شئ، نو د خپلې سیمه ایزي بیا میشتیدنې ادارې یا سپانسر ته ورشئ چې د کور د لټون او د ځمکې د مالکینو په معلوموولو کې ستاسو سره مرسته وکړي. دلته د هستوګنځي اړوند درغلۍ څخه د مخنیوي لپاره دولتي سرچیني شته.

**د کور لټون**

**تاسو د بېلابېلو پلټفارمونو له لارې هستوګنځی موندلای شئ، مګر دا مهمه ده چې د مشهورو ویبپاڼو له لارې یې لټون وکړئ او د هغو خلکو سره اړیکه ونیسئ چې تاسو وربانديي باور لرئ. ستاسو سپانسر، د بیا میشتیدنې اداره، یا سیمه ایز ټولنیز سازمانونه کولای شي د کور د لټون له پیل څخه ستاسو سره د خوندي او مناسب هستوګنځي اړوند پریکړه کولو کې مرسته وکړي.**

**د هستوګنځي موندلو په چارو کې د مرستې لپاره د سیمه ایزي بیا میشتیدنې اداري یا ټولنیزو ادارو سره اړیکه ونیسئ**

**په باوري ویبپاڼو کې د کورونو او اپارتمانونو لټون وکړئ**

**د قضیې د مدیر یا ستاسو د سپانسر سره د کرایې ځایونه وګورئ**

Refugee Housing SOLUTIONS

- آنلاین لټون: کله چې د اوسېدو د ځای په لټه کې یاست او د اوږدې مودې لپاره د خپلې بودیجې مطابق هستوګنځي انتخابوئ، نو خپله بودیجه په پام کې ونیسئ. په باوري ویبپاڼو کې د کور لټون. دا تاسو ته اجازه درکوي چې په دې ښه نظرونه ترلاسه کړئ چې په یوه سیمه کې اوسط کرایه څومره ده. د کرایې اړوند ویبپاڼو لیست او د لټون لارښووني.
- حضوري لټون: د پرانستې کرایې واحدونو په موندلو کې د مرستې لپاره د بیا میشتیدنې ادارو، ټولنیزو سازمانونو، کلیساګانو یا عبادت ځایونو سره اړیکه ونیسئ. همداراز تاسو کولای شئ د املاکو د یو سیمه ایز بزاز یا مشاور سره اړیکه ونیسئ چې د ارزانه کرایې ځای د موندلو تجربه لري. دا ورته روښانه کړئ چې تاسو یو نوی راغلی شخص یاست او د هستوګنځي موندل ستاسو لپاره یوه ننګونه ده.
- پر اپارتمانونو یا کورونو ګرځېدل: ډاډ ترلاسه کړئ چې د کرایې تړون له لاسلیک کولو مخکې موجوده کرایې ځای وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې موقعیت خوندي او په سم حالت کې دی. پر هستوګنځي د ګرځېدو او کتلو مخکې د کرایې تړون د شرایطو په اړه پوښتنې چمتو کړئ او یادداښتونه یې واخلئ. لارښود چک لیست ځینې پوښتنې چې د کور د لیدلو په جریان کې باید وپوښتل شي.

**غوښتنلیک، د کرایې ځای بندول او کډه کول**

**تاسو د بېلابېلو پلېټفارمونو له لارې هستوګنځی موندلای شئ، مګر دا مهمه ده چې د مشهورو ویبپاڼو له لارې یې لټون وکړئ او د هغو خلکو سره اړیکه ونیسئ چې تاسو وربانډې باور لرئ. ستاسو سپانسر، د بیا میشتیدنې اداره، یا سیمه ایز ټولنیز سازمانونه کولای شي د کور د لټون له پیل څخه ستاسو سره د خوندي او مناسب هستوګنځي اړوند پریکړه کولو کې مرسته وکړي.**

**د مناسبو اسنادو سره د کرایې غوښتنلیک ډک کړئ**

**د خپلې قضیې د مدیر سره خپل کرایه خط وګورئ، لاسلیک یې کړئ او تضمین ورکړئ**

**ور کډه شئ! د اوبو او برېښنا اسانتیاوې تنظیم کړئ، بیمه ترلاسه کړئ او د خپل نوي کور څخه خوند واخلئ**

- غوښتنلیک: که تاسو غواړئ چې په یو اپارتمان کې کور کرایه کړئ، تاسو باید سمدستي غوښتنه وکړئ. د کرایې ځینې غوښتنلیکونه فیس لري، دا فیس معمولا د 25 څخه تر 50 ډالرو ترمنځ وي. عموما، نوي راغلي کسان داسې معیاري اسناد نه لري چې د کور مالکین یې د کرایه کونکو د معلوماتو لپاره ورته اړتیا لري. دا مهمه ده چې په دې اړه لا له وړاندې د ځای مالک یا د ملکیت مدیر ته خبر ورکړئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دوی وپوهیږي کوم ډول اسناد تاسو ورته وړاندې کوئ. د مثال په توګه، د بیا میشتیدنې ادارې لخوا ژمنلیک، یا یو داسې لیک چې ستاسو لپاره پکې ملاتړ تشریح شوی وي، چې تاسو یې د کرایې د کور د غوښتنې پرمهال ترلاسه کوئ، دا ممکن درسره مرسته وکړي. د کرایې مخینې یا سوابقو پرته څنګه یو اپارتمان ترلاسه کړئ. د کریډیټ چک پرته د اپارتمان ترلاسه کولو لپاره لارښووني.
- که تاسو له پیل څخه د ځایي بیا میشتیدنې ادارې یا د یو ټولنیز سازمان سره کار کوئ، دوی به پوه شي چې کوم د ځای مالکین غواړي چې نوي راغلو خلکو ته خپل ملکیتونه په کرایه ورکړي. د کرایې تړون لاسلیک کول: که امکان ولري، د بیا میشتیدنې ادارې، سپانسر، د کورنۍ غړي، یا د یو ټولنیز یا مذهبي سازمان څخه وغواړئ چې ستاسو سره ستاسو د کرایې تړون په لوستلو او پوهیدو کې مرسته وکړي. د لاسلیک کولو مخکې، د کرایې واحد وګورئ، چیک یې کړئ او شرایط په لیکلې ډول مستند کړئ. خپل په کرایې تړون ځان پوه کړئ.

Refugee Housing
SOLUTIONS

- کېده شئ: کله چې تاسو خپل نوي کور ته لاړشئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې خپل د اوبو او برېښنا اسانتیاوې تنظیم کړئ ، د کرایه کونکو بیمه ترلاسه کړئ او د خپل کور لپاره فرنیچر او نور اړتیاوې ترلاسه کړئ. ټولنیزې اداري، باوري سازمانونه او آنلاین بازارونه ممکن ستاسو د نوي کور لپاره وړیا یا ارزانه فرنیچر او د کور توکي ولري. د کور د تنظیمولو دې لارښود ته مراجعه وکړئ. د یو ښه کرایه کونکي لارښود